Level 2

# زما کوربه هیواد

## له 8 (٨) تر 10 (١٠) کلنو ماشومانو لپاره

له سکرین پرته د زده‌کړې سرچینې چې ګڼ مهارتونه رامنځته کوي.



# معرفي

د دغه کاري کتاب په بشپړولو به تاسو د کوربه هېواد په اړه لاندې موضوعات زده کړئ:

| اونۍ | پروژه | موضوع |
|---|---|---|
| 1 | په خپل هېواد کې زما کور | جغرافيايي موقعيت |
| | | مهم مسيرونه |
| | | مهم جغرافيايي او سياسي شکلونه |
| 2 | موقتي ريسټورانټ | کرنسي او محلي بېلونه |
| | | ستاسو د کوربه هېواد مهم توليدات |
| | | محلي خواړه او ترکيبات |
| | | په يوه رسټورانټ کې څنګه فرمايش ورکړو |
| 3 | د انا کيسې | هغه ژبې چې خبرې پرې کېږي او 10 مهمې کليمې |
| | | مشهورې ورزشي لوبې |
| | | په زړه پورې فولکلوريکې کيسې |
| 4 | ستاسو د هېواد برنډ جوړول | محلي ښځينه جامې |
| | | مهم دودونه |
| | | حکومتولي او سياسي ارزښتونه |
| | | مشهور خلک او محلي رهبران |
| | | ملي رخصتۍ |
| | | اقليم او مهم اقليمي موضوعات |

## د ښوونکو لپاره نوټ:

د دغه کتاب په ځينو فعاليتونو کې بايد زده‌کوونکي شاوخوا وګرځي او له خوړو سره کار وکړي. په دې صورت کې دا ممکنه نه ده. **موږ د لاندې ځايونو وړانديز کوو:**

**1 اونۍ:** د شاوخوا ګرځېدو پر ځای، زده‌کوونکي د سيمې له خلکو سره مرکه او د متن له مخې د ځايونو تصور کولی شي. که ممکنه وه، د سيمې خلک عکسونه اخيستی شي او زده‌کوونکي دGoogle Maps پشان سرچينو څخه ګټه اخيستی شي. که له پورته مواردو يو هم ممکن نه وي، زده‌کوونکي کولی شي د خپل تصور له مخکې خپل کور، کوڅه او بل هر څه وښيي.

**2 اونۍ:** د خپلو خوړو پخولو پر ځای، زده‌کوونکي کولی شي يوازې د يوه رسټورانټ جوړولو پړاوونه وښاري. زده‌کوونکي کولی شي د پاڼې، د لوبو اوړو او/يا نورو موادو چې په کور کې يې راټولولی شي، فرضي خواړه برابر کړي.

التعليم فوق الجميع | education above all

# زما د زده‌کړې سفر

نوم: ______________________

دلته مو ځان رسم کړئ

## اونۍ 1

ورځ 1 ورځ 2 ورځ 3 ورځ 4 ورځ 5

وشو!

## اونۍ 2

ورځ 1 ورځ 2 ورځ 3 ورځ 4 ورځ 5

وشو!

## اونۍ 3

ورځ 1 ورځ 2 ورځ 3 ورځ 4 ورځ 5

وشو!

## اونۍ 4

ورځ 1 ورځ 2 ورځ 3 ورځ 4 ورځ 5




التعليم فوق الجميع | education above all

# ورځنۍ ذهني پوهه

## همدا لحظه



هره ورځ 5 دقيقې ارام کښېنئ، له پينځه واړو حواسو مو ګټه واخلئ او وګورئ چې همدا اوس مو شاوخوا څه تېرېږي او لاندي موارد نوټ کړئ:



**همدا اوس زه ... وينم**



**همدا اوس زه ... اورم**



**همدا اوس زه ... څکم**



**همدا اوس زه ... بويوم**



**همدا اوس زه ... احساسوم**

# د 1 اونۍ لنډیز

پروژه

## په خپل هېواد کې زما کور

په کورنۍ هېواد کې مو خپل ځان پیدا کړئ.

1

### ستاسو نوی کور او کوڅه

خپل نوی کور وښيئ

2

### ستاسو نوی ښار یا کلی

هغه کلی یا ښار وښيئ چې ستاسو نوې کوڅه پکې ده

3

### ستاسو نوې ولسوالۍ/ایالت

شاوخوا وګرځئ چې نوښت وکړئ!

4

### ستاسو نوی هېواد

د خل نوي هېواد شاوخوا مو سفر وکړئ.

5

### لیک لیکل

هغه څه منعکس کړئ چې ستاسو په اړه ستاسو په نوي هېواد کې نوي دي.

### اړین توکي

- کاغذ
- پېنسل/قلم
- تار/سټېپلر
- ستاسو د کورنۍ هېواد یوه نقشه

# پروژه‌يي زده‌کړه

education above all
التعليم فوق الجميع



## په خپل هېواد کې زما کور

### ایا په خپل هېواد کې مو خپل کور رسموی شئ؟

*په دغه پروژه کې به موږ په مختلفو مقیاسونو خپل موقعیت وښیو او داسې فلېپ (حرکت کوونکی) کتاب به جوړ کړو چې وښيي چې اوس چېرته یو.*

1. نوی کور مو له بهر نه څنګه ښکاري؟
2. ایا دا یو ساختمان دی؟ څو طبقې لري؟ تاسو یې په څوومه طبقه کې یئ؟
3. د نوي کور رنګ مو څنګه دی؟ زینې لري؟ دروازه یې څنګه ښکاري؟

- 10 cm په 10 cm کې د کاغذ ټوټې پرې کړئ او په «1 پاڼه» یې سرېښ کړئ
- له پورتنیو پوښتنو کټه واخلئ چې خپل نوی کور مو له څومره جزیاتو سره چې ممکنه وي، رسم کړئ.
- د خپل کور په اړه یو د 5 جملو پاراګراف ولیکئ؛ دلته به په ښکاره د خپل نوي کور مهمې برخې تشریح کړئ.
- دا مه هېروئ چې هره جمله په بېله بنه پیل کړئ.

**د جملې له لاندې پیلوونکو کټه اخیستی شئ.**

| بېلګه | د جملې پیلوونکی |
|---|---|
| یو **نسواري رنګه؟ غوسه‌ناک** سپی... | دوه صفتونه |
| د کونج **شاوخوا** ... | د اضافت توری |
| **دا** یو زوړ ساختمان و ... | دا |
| **له کړکۍ سره کېناستل؟** زه ... **کوټې ته ننوتل؟** زد ... . | مشارکتي عبارتونه |

# په خپل هېواد کې زما کور



- یو څه لوېي cm12 cm x 12 د کاغذ ټوټې پرې کړئ
- په «2 پاڼه» یې سرېښ کړئ

1. پر سرک څه وینئ؟ایا نور ساختمانونه یا کورونه شته؟نښې او لوحې شته ؟ پلورنځي؟ښوونځي؟پارکونه او داسې نور ځایونه شته ؟
2. نور کورونه څنګه ښکاري ؟
3. نورې کومې کلیمې یا صفتونه دا تشریح کوی شي چې ستاسو کوڅه څنګه ښکاري/څنګه احساس پکې کوئ ؟

*(ګڼه ګونه، چوپ، ښکته پورته، بوخته، له خلکو ډکه، صنعتي او داسې نور)*

- هغه کوڅه رسم کړئ چې نوی کور مو پکې دی او په دې کوڅه کې مو خپل کور رسم کړئ.
- د خپل کور په اړه یو د 5 جملو پاراګراف ولیکئ؛ دلته به په ښکاره د خپل نوي کور مهمې برخې تشریح کړئ.

## د جملې له لاندې پیلوونکو ګټه اخیستی شئ.

| د جملې پیلوونکی | بېلګه |
|---|---|
| هغه څه تشریح کړئ چې اورئ یې | که چوپ ودرېږئ، ښایي پوه شئ چې ... زه ... اورم |
| هغه څه تشریح کړئ چې وینئ یې | کله چې وګورئ/نظر واچوئ... ښایي حیران شئ چې ... وګورئ |
| هغه څه تشریح کړئ چې بویوئ یې | د ... عطر<br>د هوا بوی لکه ... |
| هغه څه تشریح کړئ چې احساسوئ یې | زما د ... احساس خوښېږي<br>زه داسې احساس کوم لکه ... |

کارپاڼه

# کور له څه شي جوړېږي؟




کور څه شی دئ؟
په کور کې څه کوو؟
کور ته کله ځو؟
هغه خلک چې په کور کې راسره اوسېږي،
څوک دي؟

له نورو سره په دې اړه بحث چې یو د اوسېدو ځای یا 'کور' له څه شي جوړېږي، په دې اړه یو لنډ پاراګراف ولیکئ (یا رسم کړئ).

# یوه غږیزه نقشه جوړه کړئ!

دغې «د غږونو نقشې» او کیلۍ ته یې وګورئ.




- څه شی وینئ؟
- څه چې وینئ، په اړه یې څه فکر کوئ؟
- د غږونو دغه نقشه مو د څه شي په اړه حیرانوي؟




د خپل ښار یا کلي د غږونو، ترکیبونو، رنګونو او/یا بوینو خپله نقشه مو جوړه کړئ!

# پروژەيي زدەکړە

education above all
التعليم فوق الجميع



## په خپل هېواد کې زما کور

### د خپل نوي ښار/کلي نقشه رسم کړئ!

1. ستاسو په ښار یا کلي کې څومره ګڼه ګوڼه ده؟
2. ایا داسې ځانګړې نښې شته چې پوهېدل پرې اړین دي؟
   *(روغتون، د پولیسو مرکز، تاریخي غرونه او داسې نور).*
3. په خپل کلي یا ښار کې مو د خوښې ورزشي لوبې کومې دي؟
   *(ښوونځی، د لوبې ځای، رستورانت او داسې نور)*

- د 15 cm x 15cm کې د کاغذ یو څه لویې ټوټې پرې کړئ.
- په «3 پاڼه» یې سرېښ کړئ
- تصور وکړئ چې ښار ته مو له پورته ځایه ګورئ. هغه **کلی یا ښار** رسم کړئ چې نوې کوڅه مو پکې ده.
- په 3 پاڼه کې مو د ښار یا کلي په اړه یو پاراګراف ولیکئ.



**هڅه وکړئ چې هره پاڼه په بېله بڼه پیل کړئ!**

دا نقشه ستاسو د غرونو، ترکیبونو، رنګونو یا بویونو له نقشې سره څنګه پرتله کېږي؟

# ورځ 2

# په خپل هیواد کې زما کور

education above all
التعليم فوق الجميع

په نقشه کې مو لاندې ځایونه او نښې پیدا او په نښه کړئ:

| کیلي | پیدا مو کړه؟ | ځای |
|---|---|---|
| 🏠 | ✓ | ستاسو کور او کوڅه |
| | | روغتون، روغتیایي مرکزونه او درملتون |
| | | د پولیسو مرکز |
| | | سوپرمارکېټ |
| | | ښوونځي |
| | | کتابتونونه |
| | | ښاري نښې |
| | | د موټر یا ریل ګاډي تمځای |
| | | د لیدونکي مرکز |
| | | پارکونه او تفریحي ځایونه |



تصور وکړئ چې له کور نه مو نیږدې درملتون یا سوپرمارکېټ ته ځئ او بېرته راځئ. هغه مسیرونه او ګامونه په یاد کړئ چې تر هغه ځایه یې وهئ او په نقشه کې یې رسم کړئ.

درې تر ټولو مهم مسیرونه په نښه کړئ چې معمولاً هر وخت ترې تېرېږئ.

# په خپل هیواد کې زما کور

## نوی ایالت یا ولسوالي مو وښيئ!

1. ستاسو د ایالت مهمې جغرافیایي او طبعي برخې کومې دي (لکه سیندونه، غرونه، غونډۍ، ونې/نباتات)؟
2. په دغه ولسوالۍ/ایالت کې نور لوی ښارونه/کلي شته چې د خپلو تر څنګ يې په نښه کړئ؟
3. ستاسو د نوي ایالت یا ولسوالۍ خلک څه کوي؟ ایا کوم دودیز مسلک یا کار شته؟ ایا دا کارونه نوي دي؟

- 17 cm x 17 cm کې یو څه لوېي د کاغذ پاڼې پرې کړئ.
- په «4 پاڼه» يې سرېښ کړئ
- هغه **ولسوالي یا ایالت** رسم کړئ چې ستاسو نوی ښار/کلی پکې دی. د امکان تر حده جزیات راوړئ!
- په ایالت/ولسوالۍ کې مو خپل کور پیدا او رسم کړئ.
- د خپل نوي ایالت یا ولسوالۍ په اړه یو پاراګراف ولیکئ.

**جملې په بېلابېلو بڼو پیل کړئ چې تشریح مو لا روښانه شي!**



1. د خپل کوربه هېواد * یوه نقشه پیدا کړئ او په ځیر ورته وګورئ. (لکه ⍰) لاندې پوښتنو ته خپل ځواب ووایئ:




**څه ته مو پام شو؟** (رنګونه، شکلونه، کرښې او نور تشریح کړئ.)

**څه ته مو چې پام شوی، د هغه په اړه څه فکر کوئ؟** (مثلاً څه فکر کوئ چې دا رنګونه د څه شي استازولي کوي؟

**نقشې ته چې وګورئ، د خپل کوربه هېواد په اړه څه شي ته حیرانېږئ؟**

2 . نقشې ته بیا وګورئ او لاندې جدول ډک کړئ:

| فزیکي برخې | زما په کوربه هېود کې تر ټولو مهم |
|---|---|
| سیندونه | |
| جهیلونه | |
| غرونه | |
| پولې (له سمندر او ځمکې سره) | |
| (د اضافي یوه لپاره ځای) | |
| **سیاسي برخې** | **زما په کوربه هېواد کې** |
| پلازمېنه | |
| نور لوی ښارونه | |


* د نړۍ نقشه د دغه کتاب په 16مه پاڼه کې ده.

# په خپل هېواد کې زما کور

1. ستاسو هېواد نړۍ په کومه برخه کې دی؟ د نړۍ له 7 لویو وچو (لاندې ښودل شوې) په کومه یوه کې دی؟
2. په شمالي نیمه کره کې دی که په جنوبي نیمه کره کې؟ ایا د استوا کرښې (هغه کرښه چې په *0 درجه جغرافیایي عرض کې نړۍ په دوو مساوي کرو ویشي*) ته نیږدې دی؟
3. *ایا یوه جزیره ده او که ځمکې احاطه کړې (ټولو خواوو ته یې وچه ده)؟*
4. ایا ستاسو د ښار تر څنګ نورو لوی ښارونه شته چې په نښه یې کړئ؟

شمالي نیمه کره

د استوا کرښه




جنوبي نیمه کره

- 20 cm x 20cm کې یو څه لویې د کاغذ پاڼې پرې کړئ.
- په «5 پاڼه» یې سرېښ کړئ
- د خپل نوي هېواد لپاره خپله نوې نقشه رسم کړئ.
- په نقشه کې مو خپل کور پیدا کړئ.
- په 5مه پاڼه کې مو د خپل نوي هېواد په اړه یو پاراګراف ولیکئ او د هغې نقشې په اړه چې تاسو یې غواړئ رسم کړئ.

| | |
|---|---|
| لکه چې ښودل کېږي... | د بېلګې په توګه ... |
| په دې صورت کې... | لکه ... |
| دا لیدل کېږي... | مثلاً... |
| په ځانګړي ډول... | د مثال په بڼه .. |
| خصوصاً... | د یو شي لپاره ... |

د خپلې نقشې د برخې د بېلګو د ښودلو لپاره د جملو له دغو پیلوونکو ګټه واخلئ.

# پروژه‌يي زده‌کړه

## په خپل هېواد کې زما کور

### ستاسو د فلېپ کتاب جوړول

- د هغو معلوماتو يو لېست برابر کړئ چې تاسو مو په فلېپ کتاب کې راټول کړي. په خپل لېست کې لږ تر لږه 10 شيان ځای کړئ.

- تصور وکړئ چې ستاسو له فلېپ کتاب څخه به هغه خلک ګټه اخلي چې لومړی ځل ستاسو نوي هېواد ته راځي.




- په خپل فلېپ کتاب يوه شرحه رامنځته کړئ. د «6 پاڼي» په څېر يې سرېښ کړئ. له نښو او رنګونو کار واخلئ چې د بېلابېلو معلوماتو استازولي وکړي، لکه چې ښودل شوي.




اوس ټولې 6 پاڼې سره يو ځای کړئ؛ په رسۍ يې وتړئ يا يې سټېپلر کړئ.



فلېپ کتاب مو له کورنۍ او ملګرو سره شريک کړئ. دوی يې په اړه پوښتنې کولی شي.

# فعالیت


## لیک لیکل

داسې چا ته یو لنډ ولیکئ چې هېڅکله ستاسو کوربه هېواد ته نه وي راغلی.

د خپل کور، کوڅې، ښار/کلي، ایالت او هېواد هغه عناصر وکاروئ چې غواړئ په اړه یې ولیکئ؛ لکه نفوس، طبعي شکلونه، خلک، مهم ځایونه او داسې نور.

لیک په یوه پاکټ کې کېږدئ او لکه لاندې چې ښودل شوي، خپله نوې پته پرې ولیکئ:









- دغې پروژې له تاسو سره د خپل نوي ځای په پېژندلو کې څنګه مرسته کړې؟
- دغې پروژې ستاسو د نوي ځای په اړه ستاسو د نظر په بدلولو کې څه مرسته کړې؟

education above all
التعليم فوق الجميع

# ضمیمه

## د نړۍ نقشه



# اونیز غبرګون

ایا د دې اونۍ له زده کړې مې خوند واخیست؟



## څه نوي شیان مې زده کړل؟

## څه مې ښه تر سره کړل؟

## راتلونکې اونۍ څه شی ښه ترسره کولی شم؟

*که مو دا خوښ شوی وي، د سلګونو نورو داسې سرچینو لپاره زموږ IFERB ویبپاڼې ته لاړ شئ. [https://resources.educationaboveall.org](https://resources.educationaboveall.org)*

التعليم فوق الجميع | education above all

# د 2 اونۍ لنډیز

پروژه

## زما موقتي رستورانټ

د خپل کوربه هېواد یو ډول خواړه تیار کړئ او رستورانټ پیل کړئ.

## پخول او خوړل

5 یو ډول خواړه پاخه او مېلمه‌پالنه پرې وکړئ.

## د بازارموندنې پلان

4 د خپل مفهوم په اړه له مېلمنو سره خبرې اترې وکړئ.

## د کاروبار پلان

3 خپل قیمتونه/لګښتونه او ګټه محاسبه کړئ.

## لوجیستیک او مینو

2 خپله مینو او د مېلمنو لیست جوړ کړئ.

## محلي خوراکونه او ترکیبات

1 د خپل کوربه هېواد مشهور خواړه او رستورانټونه وښیئ.

### اړین توکي

- کاغذ
- پېنسل/قلم
- محلي ترکیبات
- ستاسو د کوربه هېواد د خوړو لارښود

# پروژه‌يي زده‌کړه

education above all
التعليم فوق الجميع

## زما موقتي رستورانټ

1. ايا د خپل کورنۍ هېواد خواړه مو خوړلي؟
2. څه شی مو ډېر خوښ شول؟
3. ايا داسې يو خوند يا ترکيب و چې تاسو حيران کړي؛ ځکه چې نوی يا اشنا و؟

**رستورانټ ته د تګ دلايل روښانه کړئ:**


د رستورانټ په اړه د خلکو څه خوښېږي؟

په کور کې د خوړلو په اړه د خلکو څه خوښېږي؟

د سيمې له خلکو او ملګرو څخه مو د محلي خوړو د پخلي د کړنلارې په اړه وپوښتئ او د خپل کورنۍ هېواد د لږ تر لږه 10 ترکيباتو لېست جوړ کړئ.

**لاربښوونه:** هغه محصولات (هغه نباتات چې موږ يې خورو او د پيسو په بدل کې يې پلورو) او ژوي چې په هېواد کې د لاسرسي وړ او مشهور دي؛ هغه معمولاً د ملي پخلي ترکيبونه جوړوي.

د خوړو سالم قاب




د **خوړو سالم قاب** د يوه لارښود په توګه وکاروئ چې دا ترکيبونه منظم کړئ او دا وارزوئ چې دا خواړه څومره سالم او تعادل لرونکي دي!

هغه محلي خواړه چې تاسو يې په اړه اورېدلي، څومره سالم دي؟

په دغه پروژه کې به تاسو خپل موقتي رستورانټ جوړ کړئ!

**د يوه برياليي رستورانټ د جوړولو لپاره څه ته اړتيا ده؟**

د کاروبار پلان هغه مهمې پوښتنې ځوابوي چې تاسو باید د کاروبار له پیل کولو مخکې پرې پوه شئ. لاندې ځینې پوښتنې دي چې تاسو به یې د موقتي رستورانټ د پیلولو پر وخت په اړه فکر وکړئ:

| برخه | هغه پوښتنې چې باید په اړه یې فکر وکړو |
|---|---|
| **1 برخه:** د موقتي رستورانټ مفهوم. | د رستورانټ نوم څه دی؟ څه شی به دا رستورانټ ځانګړی او بې نظیره کړي؟ |
| **2 برخه:** لوجیستیکي پلان | مېلمانه یې څوک دي؟ خواړه به یې څه وخت، چېرته او څنګه وړاندې شي؟ |
| **3 برخه:** دخوړو پلان | تاسو به په کومو خوړو مېلمه‌پالنه وکړئ؟<br>ترکیبونه یې څه دي؟<br>د ترکیبونو سرچینه به یې له کومه کوئ؟<br>دا خواړه به څنګه پخوئ؟ |
| **4 برخه:** د قیمت ابښودلو پلان | قیمتونه یې کوم دي؟<br>تاسو به څومره لګښت وکړئ؟ |
| **5 برخه:** بازارموندنه، اړیکې او د ډیکوریشن پلان. | څنګه به اړیکې ټینګې کړئ او معلومات به څنګه شریک کړئ؟<br>مینو به یې څنګه وي؟ |

**1 برخه**



## زما د موقتي رستورانټ مفهوم

**د خپلې خوښې رستورانټونو په اړه فکر وکړئ. د هغو په اړه مو څه شی خوښېږي؟** *(خواړه، چاپېریال، پېژندل شوې خبرې، ځانګړي خواړه او داسې نور)*

1. ______________________________


2. ______________________________

څه شی به زما موقتي رستورانټ ځانګړی او بې نظیره کړي؟

## زما موقتي رستورانټ

### برخه 2 لوجيستيکي پلان

1. د خپل رستورانټ لپاره د 3-5 بالقوه ميلمنو لېست جوړ کړئ...




2. يو وېن ډياګرام رسم کړئ چې د دوی لاسرسي وړوالی تنظيم کړئ او پرېکړه وکړئ چې څه وخت به مو د رستورانټ د پرانيستلو لپاره ښه وخت وي.

ستاسو د وېن ډياګرام پر اساس، ستاسو لپاره څه وخت د رستورانټ د پرانيستلو لپاره تر ټولو ښه وخت وي؟

### برخه 3 د خوړو پلان

1. ستاسو د کوربه هېواد د پخلي لارښود وګورئ.

*لارښوونه: که ستاسو شاوخوا د پخلي لارښود کتاب نه وي، تاسو د کوربه هېواد له خلکو سره د مرکو له مخې د پخلي لارښود ليکلی شئ.*

1. **د بېلګې په توګه 3** خواړه وټاکئ (د تيارولو له اوسط ډول *45* دقيقو سره) چې وکولی شئ له پيل تر پايه يې مديريت کړی شئ. دا خواړه لاندې رسم کړئ!

| خواړه #3 | خواړه #2 | خواړه #1 |
|---|---|---|
| | | |

2. لاندې يې نومونه، د ترکيبونو لېست او د 3 واړو ډوله خوړو د پخولو د پړاوونو تشريح وليکئ.

ورځ 3

# پروژه‌يي زده‌کړه

## زما موقتي رستورانټ

برخه 4

### د قیمت پلان

1. په خپل رستورانټ کې د ترکیبونو، د بازارموندنې موادو، کارکوونکو، کاغذونو، اسبابو او داسې نورو په ګډون، د «اړتیاوو» لیست برابر کړئ.
2. د ترکیبونو قیمت وټاکئ *(د قیمتونو د ټاپو، د خوراکي توکو د پلورنو او مرکو له مخې)*
3. داسې یو جدول جوړ کړئ لکه لاندې چې ښودل شوی (خومره قطارونو ته چې اړتیا ده ورزیات یې کړئ):

*ستاسو د کورنۍ هېواد په دودیزه کرنسۍ (پولي واحد)*

| ټولټال لګښت | فردي قیمت | مقدار | بنه | |
|---|---|---|---|---|
| **ترکیبات** | | | | |
| فردي بیه x مقدار | | 1 پونډ<br>3 هګۍ | - بوره<br>- هګۍ | خواړه #1 |
| | | | | خواړه #2 |
| | | | | خواړه #3 |
| **د پخلنځي وسایل** | | | | |
| | | 20 | دسمالونه | |
| | | | | |
| **نور** | | | | |
| | | | | |
| | **ټولټال عملیاتي بودیجه** | | | |

4. د هرو خوړو له پاره د 10 - 30% **زیاتوالي** سره د **هرو خوړو وروستی بیه** وټاکئ تر څو داډه شئ چې تاسو هم یو څه **ګټه** (لاسته راوړنه) لرلې ده.

**دغه فورمولونه وکاروئ:**

ګټه = 30 % x د خوړو ټولټال لګښت

د خوړو بیه = ټولټال لګښت + ګټه



# د خوړو خبرې

education above all التعليم فوق الجميع

ستاسو په کوربه هېواد کې د خوړو په اړه خبرې او دودونه وښيئ!

ستاسو په کوربه هېواد کې د خوړو په اړه ځينې دودونه او رواجونه کوم دي؟

په ځانګړو پېښو او مراسمو کې خلک څه شی خوري؟

په کوربه هېواد کې مو څنګه وايئ يا ښيئ چې يو شی ښه خوند لري؟

د دې د ويلو ادبي لاره څه ده چې په خپل قاب کې مو يو شی نه خوښيږي؟


ګارسون/ګارسونه څنګه د فرمايش پوښتنه کوي؟

څنګه د خوړو فرمايش ورکوئ؟
د بېل پوښتنه څنګه کوئ؟

# زما موقتي رستورانټ


## برخه 5 — د اړیکو پلان




1. د خپل رستورانټ لپاره د یوه «جلب کوونکي» نوم په اړه فکر وکړئ چې ستاسو په کوربه هېواد پورې اړه لري او دغه نوم ته یو بېنر هم جوړ کړئ.
*(یو څه رسامي هم ورزیاته کړئ!)*

2. د رستورانټ د پرانیستلو لپاره مېلمنو ته بلنلیکونه جوړ کړئ. د خوړو نېټه، ځای او وخت پکې زیات کړئ.




Sample Seating Plans

3. د ډیکوریشن او د مېزونو د لوازمو او د کېناستو د پلان په ګډون (لکه دا چې خلک باید چېرته کېني؟)، چاقوګانو او پنجو، د اوبو ګیلاسونو او نورو په اړه پلان جوړ کړئ.

4. یوه مینو جوړه او ډیزاین کړئ چې ټول خواړه پې له توصیف او قیمت سره پکې راغلي وي.

### ستاسو د مینو لپاره لارښووني

- د خپلو خوړو د توصیف لپاره له ***صفتونو*** کټه واخلئ (لکه «مالګین»، «خوندور» او داسې نور.)
- *ژړیمونه او **دودونه** پکې ځای کړئ (لکه « معمولاً د ماښام لخوا خوند ترې اخیستل کېږي، په x مراسمو کې، او داسې نور)*
- *یو **شالید** پې رامنځته کړئ (لکه دا چې د دې خوړو په اړه څنګه یوه شوې؟، کله مو چې وخوړل څه مو پکې خوښ شول؟)*



education above all
التعليم فوق الجميع

# فعالیت

# د تیاري وخت

## د خپل فیډبک فورم جوړ کړئ!



1. 5 پوښتنې ولیکئ چې له تاسو سره د دې په پوهېدو کې مرسته وکړي چې ایا مېلمه مو له رسټورانته خوند واخیست که نه.
*بېلګې: له خوړو مو څومره خوند واخیست؟ دغه خدمت څنګه ارزوئ؟*
2. د هرې پوښتنې لپاره، د پوښتنې هغه بڼه وټاکئ چې باید هغسې وي. دلته ځینې انتخابونه راغلي:

| | |
|---|---|
| ازادانه | پرېږدئ چې خلک په یو څو کرښو کې او په خپلو کلیمو درته ووایي چې دوی څه فکر کوي |
| څو انتخابه | خلکو ته د پوښتنو ځینې له مخکې ټاکل شوي ځوابونه وړاندې کړئ.<br>مثلاً: خواړه څنګه وو؟<br>• خواړه مې ډېر خوښ شول.<br>• د خوړو مزه تر دې هم ښه کېدی شوی.<br>• له خوړو مې هېڅ خوند وا نه شوی اخیستی. |
| عددي محدوده | *د عدادو یوه محدوده وټاکئ یا څه چې ښه راځي.*<br>مثلاً: له 1 تر 5 مقیاس کې، دغه خدمت څنګه ارزوئ؟<br>(1= ډېر بد، 5=ډېر ښه) |

## کرنسي جوړه کړئ



1. له شاوخوا خلکو څخه د محلي کرنسی په اړه **وپوښتئ**.
*- هلته څه ډول بېلونه او سکې دي؟*
*- دا د څومره مقدار استازولي کوي؟*
2. د هغو پیسو مقدار **محاسبه** کړئ چې یو کس به ستاسو په رسټورانټ کې د خوړلو لپاره اړتیا ورته ولري.
3. هغه بېلونه او/یا سکې **رسم کړئ** چې ستاسو مېلمانه به د خوړو اخیستو لپاره اړتیا ورته لري. اضافي بېلونه/سکې رسم کړئ چې د ماتو پیسو لپاره وساتل شي.

# پروژه‌اي زده‌کړه

## زما موقتي رستورانت

نن به مو رستورانت پیل کړئ!

1. خوړه تیارکړئ او په پخولو کې يې له «سر اشپز سره مرسته وکړئ.
2. ډیکوریشن، بینر او میز تول منظم کړئ.
3. په محلي ژبه فرمايش ورکول او مېلمه‌پالنه تمرين کړئ.
4. پرېږدئ چې مېلمانه له خوړو خوند واخلي! د پيسو راټولو لپاره ستاسو جوړ کړي بېلونه/سکې وکاروئ.
5. مېلمه ته مو د فيډبک فورم ورکړئ.
6. د خو ځوابه/محدودو شويو پوښتنو لپاره يو د **چوب خط جدول** جوړ کړئ چې د فيډبک ځوابونه وښيي.



| پوښتنه | د مثبتو ځوابونو چوب خط | ټولټال |
|---|---|---|
| پوښتنه #1 | | |
| پوښتنه #2 | | |
| پوښتنه #3 | | |
| پوښتنه #4 | | |
| پوښتنه #5 | | |




- دغې پروژې د کوربه هېواد په لا ښه پېژندلو کې څه مرسته درسره وکړه؟
- دغې پروژې د کوربه هېواد د خوړو د پېژندلو په برخه کې څه مرسته درسره وکړه؟

# اونیز غبرګون

ایا د دې اونۍ له زده‌کړې مې خوند واخیست؟



## څه نوي شیان مې زده کړل؟

## څه مې ښه تر سره کړل؟

## راتلونکې اونۍ څه شی ښه ترسره کولی شم؟

که مو دا خوښ شوی وي، د ښکلونو نورو داسې سرچینو لپاره زموږIFERB ویبپاڼې ته لاړ شئ. https://resources.educationaboveall.org

# د 3 اونۍ لنډيز

**پروژه**

## د انا کيسې

څنګه معنی لرونکې کيسې ويلی شو؟

### 1. له کور څخه يوه فولکلوري کيسه راياده کړئ

له خپل اصلي هېواد څخه يوه دوديزه کيسه راياده کړئ.

### 2. څنګه احساس کوئ؟

هغه حالت وشيئ چې يوه فولکلوري کيسه پکې رامنځته کېږي او په دې کې د ژبې ونډه څه ده!

### 3. خپله فولکلوري کيسه وژباړئ

د کيسې د ويلو لپاره مو د کوربه هېواد کليمې او اصطلاوې وکاروئ

### 4. يوه بېله کيسه

د خپل کوربه هېواد د يوې فولکلوري کيسې په اړه زده کړئ

### 5. اخلاقي پايله

يوه فولکلوري کيسه وليکئ چې راتلونکي نسل ته د امېد پيغام ورکوي.

### اړين توکي

- کاغذ
- بکس/قاب
- پينسل/قلم
- ستاسو د کوربه هېواد نقشه

education above all
التعليم فوق الجميع

## د انا کیسې

راځئ د دغو پوښتنو د ځوابونو په اړه فکر وکړو:

**د کیسو له لارې مو له مشرانو څه زده کولی شو؟**

*فولکلوري کیسې له یوه نسل څخه بل ته په وار وار ویل شوې. ډېرې دغه کیسې د لیکلو پر ځای په شفاهي بڼه راغلې. ډېرې فولکلوري کیسې یو ناتاکلی نظم لرې؛ له ژوبو کرکټرونو سره خبرې، د اصلي کرتېر لپاره یوه خوشاله پای او یو درس چې باید ترې زده شي.*

له خپل اصلي هېواد څخه مو د خپلې خوښې فولکلوري کیسې په اړه فکر وکړئ *(دا ښايي د هغه کتاب کیسه وي چې تاسو يې لولئ یا هغه چې له چا مو اورېدلې).*



که مو نه وي په یاد، له بل چا وغواړئ چې درته وېې وايي. ځینې پوښتنې چې تاسو يې د هغو د خوښې فولکلوري کیسې پیدا کولو لپاره کولی شئ، دا دي:

- هغه کومه کیسه ده چې زما په سن کې به دې والدینو یا نیکه/انا درته ویله او ستا هېڅکله نه هېرېږي؟
- کومه کیسه ده چې د ماشوم په توګه دې يې له اورېدو خوند اخیست؟

# د انا کیسې



له **درې عملي جوړښتونو** کار واخلئ او د خپلې فولکلوري کیسې جوړښت مو تحلیل کړئ

**منځ**

**(تقابل)**

*دلته د کیسې حجم لوېږي او د اصلي کرکټر احساساتي سفر جوړوي. کرکټر له یو لړ ستونزو سره مخ او پرې برلاسی کېږي، هره یوه يې کړکېچ ته ځي او په پای کې د کیسې د بدلېدونکي ټکي سبب کېږي – دې برخې ته د اوج ټکی وايي.*

2

**پیلول** **(لومړی پړاو)**

*دا لوستونکي ته نظم وربېژني، کرکټر او حالت یا ستونزې (سخره)، کرکټر ځان او خپلې موخې د ننه یکي پیدا کوي.*

1

**پای** **(حل)**

*دا برخه شيي چې کرکټر څنګه خپلې اصلي ستونزې حلوي. دلته کیسه ختمېږي.*


3

کومه کیسه چې تاسو واورېده، ولیکئ چې په پیل، منځ او پای کې يې څه وشول.

- د هر یوه لپاره 3-5 جملې **ولیکئ** (یو پاراګراف).
- **ځان ډاډه کړئ** چې هره جمله مو فعل او صفت لري.
- ځان ډاډه کړئ چې د جملو وصلولو لپاره د **ربط توری** کاروئ.

دلته ځینې د ربط توري دي چې تاسو يې په خپلو جملو کې کارولی شئ:

ځکه چې — کله — نو




خو — او — بیا

# پروژه‌يي زده‌کړه

## د انا کيسې

شاوخوا يوه کس ته مو د اصلي هېواد کيسه ولولئ او په لاندې پوښتنو بحث وکړئ:

1. د کيسې نور کوم کرکټر دلته جالب وو؟



2. د کيسې کرکټرونه څوک وو؟ انسانان وو که ژوي؟

2. کيسه چېرته شوې وه؟ په ښار کې؟ ځنګل کې؟ تاسو څه ويلی ئ؟

4. ايا کوم جادو پکې و؟



دغه پوښتنې ځواب کړئ او بيا مو ځواب له چا سره شريک کړئ.

1. کيسې مو کوم **احساس** راوپاراوه؟ د کيسې کوم عنصر يا کرکټر دا احساس درکړ؟

1. ستاسو په اند د کيسې **اخلاقي پايله** څه وه؟

1. ستاسو په اند د ژوند يو بېلې تجربې لرونکی يا داسې څوک چې په يوه بېل هېواد کې لوی شوي وي، ستاسو د کيسې اخلاقي پايله ستاسو پشان اخيستی شي؟ ولې؟

# اصطلاحات د لوبې وخت

التعليم فوق الجميع | education above all

اصطلاح د کليمو يو ترتيب شوی ګروپ دی چې يوه د هرې کليمې له معنی ببله، يوه بله ځانګړې معنی ولري.

دا د انګليسي ځينې اصطلاحات دي:




## د خپل اصلي هېواد کوم اصطلاحات درته معلوم دي؟
## ستاسو په اند خلک ولې اصطلاحات کاروي؟

- 10 کليمې، عبارتونه يا اصطلاحات ووايئ چې خلک ستاسو په کوربه هېواد کې ډېر کاروي. دا کار په خپل کوربه هېواد کې له خلکو سره په مرکو کولی شئ!
- کليمې د کاغذ پر ورو ټوټو وليکئ او په بکس کې يې کېږدئ.
- يو لوبغاړی به د کاغذ يوه ټوټه، پرته له دې چې نور يې ووينې، واخلي.
- لوبغاړی يو ډيالګو يا ټوکه جوړوي چې دا کليمې له کره منځپانګې سره پکې کارېدلې وي. د سيمې خلک يې د کره وايي تاييد کوي!

التعليم فوق الجميع | education above all

## د انا کيسې

**ستاسو د خوښې فولکلوري کيسې هغه ځای ته راورېږ چې اوس يئ!**

**1. که دا فولکلوري کيسه ستاسو په کورنۍ هېواد کې شوې وی، له 3 تر 5 کوم شيان به پکې بدل وی؟**

*د خلکو او شيانو د هغو نومونو، جامو، تنظيماتو، خبرو اترو، کليمو او اصطلاحاتو په اړه فکر وکړئ چې کرکټرانو به کارولي وی، او داسې نور.*

| اصلي نسخه | نوي نسخه |
| --- | --- |
| | |
| | |
| | |

**د کيسې مهمې برخې (پيل، منځ او پای) د هغه بدلونونو پر بنسټ بيا وليکئ چې تاسو مشخص کړي.**

التعليم فوق الجميع | education above all

# د انا کيسې

## ستاسو د کوربه هېواد د يوې فولکلوري کيسې په اړه زده کړئ!

**ستاسو له کوربه هېواد څخه له يو چا وغواړئ چې يوه فولکلوري کيسه درته ووايي، همدا راز دا پوښتنې وکړئ:**


- هغه کومه کيسه ده چې زما په سن کې به دې والدينو يا نيکه/انا درته ويله او ستا هېڅکله نه هېرېږي؟
- کومه کيسه ده چې د ماشوم په توګه دې يې له اورېدو خوند اخيسته؟
- په دې هېواد کې لويان هر وخت کومې کيسې وايي؟

کيسه داسې وليکئ لکه څنګه چې دوی يې درته وايي. د پيل، منځ او پای د مشخصولو لپاره يې ببل رنګونه وکاروئ. لړ تر لږه 5 ترونکي کليمې وکاروئ:

**ترونکي کليمې په کيسه کې فکرونه سره تړي او دلته کارېدی شي:**

| پيل | منځ | پای |
|---|---|---|
| يو وار | بيا | بلاخره |
| لومړی | ورپسې | په اخر کې |
| يو وخت | وروسته | په پای کې |
| يوه ورځ/شپه | ژر | له هر څه وروسته |

د خپل اصلي هېواد فولکلوري کيسې مو له وين ډياګرام څخه په استفادې له کوربه هېواد سره پرتله کړئ.



# د انا کیسې




څه شی کیسه په زړه‌پورې کوي؟

څنګه فکر کوئ چې دا کیسه په فرهنګ پورې اړه لري؟

یوه فولکلوري کیسه/سندره ولیکئ (په 3 پاراګرافونو کې) چې له دوو کیسو چې تاسو لوستې وي، جوړه وي او راتلونکو نسلونو ته د امېد او هیلې پیغام ولري

د پیل لپاره 3 عملي جوړښت وکاروئ!




**زما د امېد او هیلې پیغام:**



- فولکلوري کیسه مو له همزولو سره شریکه کړئ.
- ستاسو د کیسې په اړه، د نورو خلکو څه شی خوښ شول؟
- د کیسې د ښه‌والي لپاره موکوم بدلونونه راوستل پکار دي؟

## له فولکلوري کیسې مو یو کرکټر وټاکئ!

**نومونه**
*(نومونکې کلیمې)*

له 5 تر 8 ځانګړتیاوې ذکر کړئ چې د خپل کرکټر په اړه یې فکر کولی شئ.
(لکه شخصیت، فزیکي ځانګړتیاوې، جامې او داسې نور)

**صفتونه**
*(توصیفي کلیمې)*

**ټول ذکر شوي شیان مو تشریح کړئ.**
*(لکه نرۍ پوزه، بدلېدونکی شخصیت او داسې نور)*

**فعلونه**
*(د عمل کلیمې)*

د کرکټر **عملونه** مو نوټ کړئ:

- څه کوي؟
- پر کیسه یې اغېز څه دی؟

## خپل کرکټر رسم کړئ او پورته یې جزیات ولیکئ.

**بېلګه**

جادوګر

ځانګړتیاوې

جادويي ځواک

اوږده ږیره

لوېدلی غږ

اوږدې جامې

هوښیار کس



پر کیسه یې اغېز

شهزاده ته لارښووني

جادويي توره جوړوي

کیسې ته راز او معما زیاتوي

د خپلې فولکلوري کیسې د نورو کرکټرو د توصیف لپاره دغه ستراټېژي وکاروئ!

التعليم فوق الجميع | education above all

# لږ شاوخوا خوځېدل!

**د کوربه هېواد مشهورې ورزشي لوبې مو وښيئ!**

1. د سیمې له خلکو سره مرکې وکړئ چې د کوربه هېواد مشهورو ورزشي لوبو په اړه مو زده کړئ.

**په کوربه هېواد کې مو کومه یوه ډېره خوښېږي؟**

1. تصور وکړئ چې دا لوبه داسې چا ته تشریح کوئ چې هېڅکله یې په عمل کې نه کړې او نه یې لیدلې، دا کار څنګه کوئ؟
2. د لوبې قوانین څه دي؟ ویې لیکئ!
3. ملګري او سیمې اوسېدونکي راوبولئ چې لوبه درسره وکړي او خوند واخلئ!



- د دغې لوبې کولو څنګه احساس درکړ؟
- دا لوبه د هغو خلکو په اړه څه درښيي چې دا لوبه کوي؟
- په کوم دلیل مو داسې وویل؟

# اونیز غبرګون

ایا د دې اونۍ له زده کړې مې خوند واخیست؟



## څه نوي شیان مې زده کړل؟

## څه مې ښه تر سره کړل؟

## راتلونکې اونۍ څه شی ښه ترسره کولی شم؟

*که مو دا خوښ شوی وي، د سلګونو نورو داسې سرچینو لپاره زموږ IFERB ویبپاڼې ته لاړ شئ. [https://resources.educationaboveall.org](https://resources.educationaboveall.org)*

التعليم فوق الجميع | education above all

# د 4 اونۍ لنډيز

پروژه

## د هېواد رنګ ډیزاینول

خپل کورنۍ هېواد تو مو څنګه يو نوی او سرګرموونکی برنډ جوړولی شئ؟

1

### برنډ څه ته وايي؟

زده کړئ چې د هېواد برنډ څه دی.

2

### تاريخي پېښې

له خلکو سره مرکه وکړئ چې د کوربه هېواد په تاريخ مو پوه شئ.

3

### فرهنګي ګواښ

د خپل کوربه هېواد فرهنګ مو وښيئ!

4

### شعار او لوګو

د خپل هېواد د لیدو وړ هويت او مهم پيغام جوړ کړئ.

5

### خپل د هېواد برنډ شريک کړئ

راديو ته اړیکو یو کمپاین جوړ کړئ او پرينټ يې کړئ.

**اړين توکي**

- کاغذ
- قلم يا پېنسل

# پروژه‌يي زده‌کړه

التعليم فوق الجميع | education above all

## د هېواد برنډ ډيزاينول

- ستاسو په اند «برنډ» څه ته وايي؟
- څه ډول شيان برنډ لري؟ *(مثلاً جامې، بوټان، ميخانيکي وسايل او داسې نور)*
- د برنډ ونډه څه ده؟ *(مثلاً اخيستونکو ته باور ورکوي او داسې نور)*

*هېوادونه هم برنډ دي، که يو هېواد په نړيوال ډګر کې يو پياوړی او **مثبت برنډ** ولري، نو دا به د سيلانيانو، ماهرو کارکوونکو او پانګوالو لپاره جذب کوونکی وي.*




1. د هېوادونو د برنډونو د لاندې بېلګو په اړه کړ وکړئ چې يوه لوګو او يو د تورېزم شعار پکې دي (نورې بېلګې هم لټولی شئ):

| South Africa | Australia | Ethiopia |
|---|---|---|
| “Inspiring New Ways ” | “There’s nothing like Australia ” | “Land of Origins ” |

2. دا څه احساس درکوي؟ ستاسو د کوربه هېواد برنډ به څنګه وي؟

3. ايا ستاسو کوربه هېواد برنډ لري؟
له شاوخوا خلکو مو په دې اړه پوښتنه وکړئ.

په دې پروژه کې به موږ ستاسو د کوربه هېواد لپاره يو رنډ جوړ کړو!

# بیرغونه

التعليم فوق الجميع
education above all

بیرغونه معمولاً مختلف رنګونه، رنګې او سمبولونه لري چې د یوه معنی ورکوي؛ لکه:


## نیپال



سپین سور شین

دا نا معمولي بڼه د همالیا غرونو اوچت سرونه ښيي، په منځ کې يې لمر او سپوږمی د ارامتیا او حل نښې دي. سور ته ورته رنګ يې د دغه هیواد ملي سور ګل ښيي او شاوخوا شنه کرښه يې د سولې معنی لري.

## نایجریا



سپین زرغون

شین رنګ د نایجریا شتمنۍ، اوبه لرونکي سبزی او د کرنې صنعت ښيي؛ سپین رنګ يې د سولې او همپالنې غوښتنه ښيي. دا بیرغ یوه 23 کلن ماشوم، مایکل تایوو اکینکونمي جوړ کړ او د لومړي ځل لپاره د 1960 کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه د رسمي بیرغ په توګه وېږندل شو.

**همداسې مو د خپل اصلي او کوربه هیواد بیرغونه وښيئ.**

## کوربه هیواد

## اصلي هیواد

- د دغو دوو بیرغونو تر منځ ورته والي او توپیرونه څه دي؟
- هغه څه چې ستاسو د کوربه هیواد په بیرغ کې ډېر معنی لرونکي وو، وېې لیکئ. دا به د هیواد برنډ لپاره د انګېزې یوه سرچینه وي.

# پروژه‌يي زده‌کړه

التعليم فوق الجميع | education above all

## د هېواد برنډ ډيزاينول




## د پرانيستلو کيسې

په کوربه هېواد کې مو له 1 يا 2 کسانو سره مرکه وکړئ چې په هغو تاريخي پېښو خبر شئ چې په دې هېواد کې شوې دي.

1. هڅه وکړئ چې ازادانه ځواب لرونکې پوښتنې وکړئ.
2. سم غو ونيسئ او د لاسو په اشارو ځان پوه کړئ.
3. د چوپتيا/فکر کولو لپاره د انتظار وخت ورکړئ.
4. نوټونه ونيسئ او/يا انټريوګانې ثبت کړئ.

د کوربه هېواد د تاريخ 2 داسې تاريخي پېښې مشخصې کړئ چې ستاسو د هېواد برنډ ښايي د هغو بيا تازه کول وغواړي.

| پېښه ١ | پېښه ٢ |
| --- | --- |
| | |

# پروژه‌يي زده‌کړه

education above all
التعليم فوق الجميع

## د هيواد برنډ ډيزاينول

د خپل کورنۍ هېواد فرهنګ وښيئ!

1. شاوخوا وګرځئ او له 2 تر 3 د سيمې خلکو سره مرکه وکړئ چې پر دې پوه شئ:



**فرهنګي کړنې**

**ځينې عادتونه او دودونه څه دي؟**
*مثال: دا غيرمعمولي ده چې د تايلنډ خلک د لاسونو په ورکولو سره يو بل ته ښه راغلاست ووايي؛ دوی يې پرځای سر خموي.*



**مشهور فعاليتونه**

**خلک د تفريح لپاره کوم کار خوښوي؟**
ځينې لوی جشنونه کوم دي؟ له ملګرو سره د اونۍ پای لپاره يو بلنليک ډيزاين کړئ!



**مشهور خلک**

**مشهور شخصيتونه** ( ورزشکاران، فلمي ستوري، هنرمندان، ليکوال، ژورناليستان) **چې خلک يې ستاينه کوي ښوک دي او ولې؟**



**مشهوري سندرې**

**مشهورې سندرې او شعرونه کوم دي؟**
ايا تاسو 2 کرښې زده کولی شئ او په خپله ژبه يې ژباړلی شئ؟ غزليات څه ته وايي؟



**جامې**

**ستاسو د هيواد په بيلابيلو برخو کې خلک څه شی اغوندي؟ رسم يې کړئ!** دا جامې څومره دوديز دي؟ خلک کوم مواد يا تخنيکونه کاروي؟

2. هر څه مو چې له مرکو څخه زده کړل په 10 جملو کې يې ليست کړئ.

## ستاسو د کوربه هېواد فرهنګي DNA وټاکئ!

**لکه هند**

فرهنګي DNA ستاسو د هېواد د برنډ د شخصیت او هویت اساس دی. دا راته ښيي چې دا هېواد په حقیقت کې څه دی!



1. ستاسو د مرکو/څېړنو پر بنسټ، **5 مثبت صفتونه** ولیکئ چې وکولی شي ستاسو کوربه هېواد، خلک، رهبران يې او نور تشریح کړي.
*(لکه هند – شتمن هېواد، بېلابېل فرهنګونه او داسې نور)*

2. هغه 5 شیان کوم دي چې تاسو له خلکو غواړي چې ستاسو له کوربه هېواد سره شریک شي؟ *(لکه هند – زرغونوالی، تاج محل او داسې نور)*

3. له پورته ځایو ګټه واخلئ چې د خپل هېواد د برنډ 5 عمومي موخې ولیکئ. (څوک مو د کوربه هېواد د فرهنګ مهم عناصر دي چې باید خلک پرې پوه شي؟ دا به خلکو ته څنګه احساس ورکړي؟ او داسې نور.)

دا پاراګراف ستاسو د ډیزاین خلاصه وي او د هغه څه چوکاټ به جوړ کړي چې ستاسو د هېواد برنډ يې په اړه دی.

# د هیواد برنډ ډیزاینول

## د خپل کوربه هېواد شعار او د لوګو بڼه ډیزاین کړئ!

**شعار**

دا د يوې موخې يا فکر په ياد پاتې **عبارت** دی چې د تکراري شودلو په بڼه کاريږي.

**د لوګو بڼه**

يوه **ګرافيکي ښودنه** يا سېمبول چې معمولا د څېټک پېژندلو لپاره په بې نظيره توګه ډيزاين شوې.

Japan.
Endless
Discovery.

1. د هغو لوګووو ځينې بېلګې کومې دي چې تاسو ورسره اشنا يئ؟ دوی څه شي بريالي کړي؟ ځينې مشهورې لوګوې:

JUST DO IT.

open happiness™

Think different.

1. د خپل کوربه هېواد لپاره لږ تر لږه 5 بېلابېلې لوګووې په پېنسل رسم کړئ.
*که مو د لوګو د ډيزاين ډېر مفهومونه ذهن ته درغلل، تر ټولو ښه او پياوړې باندې يې تمرکز وکړئ او کمزورې يې لرې کړئ.*
2. له همزولو سره يې شريکې کړئ او د هغو فيډبک واخلئ.

لارښوونه: نيوکې پر ځان مه نيسئ. د نورو د نظرونو او د وړانديز شويو بدلونونو د تجربو په اړه پرانيستی ذهن ولرئ.

د کوربه هېواد لپاره په شعار جوړولو کې مو هم همدا پروسه تکرار کړئ.

# پروژه‌یي زده‌کړه

## د هیواد برنډ ډیزاینول

د خپل وروستي کوربه هېواد لوګو په یوه نوي پاڼه کې رسم کړئ. بیا، راځئ چې د خپل کوربه هیواد لپاره د اړیکو پلان جوړ کړو!

1. د 1 دقیقه‌یي راډیویي اعلان لپاره سکریپټ ولیکئ چې خلک ستاسو کوربه هیواد ته دعوتوي.




2. خپل کوربه هېوا ته د خلکو د بلنې لپاره یو اعلان رسم کړ.
بېلګه

*ستاسو د هېواد لوګو او شهار تر څنګ، د اصلي توریستي ځایونو په اړه یو څه جزیات وړاندې کړئ.*

## د هیواد برنډ وړاندې کول



**د خپل هیواد برنډ،اعلان او خبرتیا له نورو سره شریک کړئ.** خلک وهڅوئ چې ستاسو د کوربه هیواد په اړه پوښتنې وکړي. د اعلان او کوچیني کاغذي اعلان په اړه نظرونه راټول کړئ.



راځئ انعکاس وکړو!

- د خپل هیواد برنډ جوړولو وروسته تاسو څنګه احساس کوئ؟
- څه اسانه وو؟ څه ننګوونکي وو؟
- د خپل برنډ په زړه پوري کولو لپاره تاسو څه ترسره کړي دي؟

# انعکاس

- تر ټولو مهم شی چې شخصاً مې زده کړل، څه وو؟

- څه مې چې زده کړل، له هغو نه په راتلونکي کې څنګه ګټه اخیستی شم؟

- زما د کورنۍ هېواد کوم اړخونه دي چې زه لا هم د هغو په اړه پوښتنې لرم؟

- دغو پروژو له ما سره څنګه مرسته وکړه چې په کورنۍ هېواد کې مې له خلکو سره اړیکه ټینګه کړم؟

# ځانګړي کول

د زده‌کړې دا پکېج، دغه جواز لري Creative Commons Attribution-NonCommercial-ShareAlike 4.0 International License.

**ص. 8 :** د ګاونډ نقشې له Bloomberg Cities څخه را اخيستل شوې، دلته https://www.bloomberg.com/features/2020-coronavirus-lockdown-neighborhood-maps/

**ص. 17 :** © - World Map 2020 Geology.com

